PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا بې له فساده په ځمکه کې ووژني نو گواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو گواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.
(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابن مسعود رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: نزدیکترین مردم به من در روز قیامت (برای شفاعت) آنانی اند که از همه بیشتر بر من درود می فرستند. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۱ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۰ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د زمری ۲۳ مه د۱۴۳۴ هـ ق د شوال ۷ مه د۲۰۱۳ م د اگست ۱۴ مه

ملل متحد له پاکستانه په افغانستان کې د ټیکاو د راوستو غوښتنه وکړه

له افغانستانه د بهرنیو پوځیانو وتل به یوازې د افغان ولس او د حکومت لپاره نه، بلکې د ملگروملتونو او د سیمې د هېوادونو لپاره هم یوه ننگونه وي

کابل، رسنۍ:
د ملگروملتونوسرمنشي بان کي مون پاکستان ته په دوه ورځني سفر تللی، چې وايي له پاکستاني مشرانو سره خبرو کې به یې د سیمې امنیت او افغانستان هم مهم موضوعات وي.
ټاکلې شوې بان کي مون به له ولسمشر اصف زرداري، لومړي وزیر نواز شریف او د پوځ له مشر جنرال اشفاق پرویز کیاني سره خبرې وکړي.
نوموړی به د چهارشنبې په ورځ د پاکستان د خپلواکۍ د ورځې لمانځلو په جوړېدونکو مراسمو کې هم گډون وکړي.
پاکستان ته تر سفر وړاندې د ملگروملتونو سرمنشي د پاکستان رسمي خبري اژانس اي پي پي ته وویل چې له لومړي وزیر نواز شریف سره به د افغانستان پر مسالې وغږېږي او وايي چې گاونډي افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره د پاکستان همکاری ته هیله مند دی.
پاتې ۴ مخ

ایتلاف ملی با ایجاد دفتر برای طالبان در عربستان یا ترکیه مخالفت کرد

کابل، رسانه ها:
احزاب سیاسی مخالف حکومت افغانستان در خصوص طرح ایجاد دفتر طالبان در ترکیه یا عربستان سعودی به جای قطر، مخالفت نشان داده اند.
برخی از گروه های مخالف سیاسی حکومت افغانستان می گویند، اگر بجای قطر دفتر طالبان در ترکیه یا عربستان سعودی گشایش یابد امکانات مداخله پاکستان در پروسه صلح افغانستان بیشتر خواهد شد.
اعضای ایتلاف ملی می گویند که پاکستان در حال حاضر نسبت به قطر با ترکیه و عربستان سعودی روابط بیشتر دارد و این کشور می تواند از این مساله بر خلاف منافع افغانستان سود ببرد.
سید آقا فاضل سنچاره کی سخنگوی این ایتلاف به روز دوشنبه در صحبت با رادیو گفت که ایالات متحده امریکا بخاطر دفتر طالبان را در قطر افتتاح کرد تا پاکستان در گفتگو های صلح افغانستان نفوذ نداشته باشد:
"با توجه به روابط عنعنوی و پیچیده، که پاکستان با ترکیه و عربستان سعودی دارد باز شدن دفتر طالبان در هر یک از این دو کشور می تواند نفوذ پاکستان را تامین بکند و...
بقیه در صفحه ۴

رییس جمهور کرزی در اواخر ماه اگست به پاکستان سفر می کند

کابل، رسانه ها:
عمر داود زی سفیر افغانستان در اسلام آباد می گوید: رییس جمهور کرزی در اواخر ماه اگست، بازدید سه روزه از پاکستان خواهد داشت.
این نخستین سفر حامد کرزی به پاکستان، پس از روی کار آمدن حکومت جدید آن کشور خواهد بود.
انتظار می رود گفتگو ها روی نقش پاکستان در پروسه صلح افغانستان از مهم ترین آجندا های این سفر رییس جمهور کرزی باشد.
در این میان شورای عالی صلح افغانستان به خبر گزاری رویترز گفته که یک هیات همین شورا از بیست و ششم تا بیست و هشتم ماه اگست، در سفر با حامد کرزی همراه خواهد بود.
آقای کرزی در این اواخر بار ها گفته است: زمانی با رهبران پاکستان دور یک میز خواهد نشست که تعهد واقعی آنکشور را برای همکاری در پروسه صلح افغانستان و همچنان مبارزه با تروریزم به دست آورد.
خبر گزاری رویترز می نویسد: شماری از
بقیه در صفحه ۴

صدیقی:
هر شش ماه از فعالیت پولیس محلی نظارت صورت می گیرد

کابل، رسانه ها:
وزارت داخله، افغانستان می گوید که هر شش ماه بیش از صد تیم نظارتی را جهت بررسی کارهای پولیس محلی به ولایات کشور می فرستند.
بقیه در صفحه ۴

جاپان د کابل پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځي ته ودانۍ جوړوي

د لوړو زده کړو وزارت هڅه کوي، چې په ټول هېواد کې د پوهنتونونو د ودانیو د کمښت ستونزه حل کړي، چې دغه وزارت وکولای شي د کانکور په ازموینه کې په لوړه کچه زده کوونکي د لوړو زده کړو موسسو ته جذب کړي. (عبید)

کابل، رسنۍ:
د جاپان په ۸،۲ میلیونه امریکایي ډالره مرسته د کابل پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځي لپاره د پوهنتون په انگړ کې ودانۍ جوړېږي.
د دې ودانۍ د بنسټ ډېره نن د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عبیدالله عبید او په کابل کې د جاپان د سفیر هیروشي تاکاهاشي له خوا کېښودل شوه.
د کابل پوهنتون رییس پوهاند حبیب الله حبیب وویل، چې دغه ودانۍ د ۱۸ میاشتو په
پاتې ۴ مخ

راتلونکی انتخابات به سم نه وي

.... فاروق اعظم

په جنگ کی عام، شفاف او آزاد انتخابات نه شي کېدای. انتخابات د دموکراسی مظهر دی او دموکراسی یوازې په امن کې مطرح ده.

اوس پر هېواد جنگي اقتصاد حاکم دی او په جنگ کې داسې کړی، شته چې د جنگ دوام یې په گټه دی. هغوی نه غواړي جنگ ختم، عام، شفاف او آزاد انتخابات تر سره شي.

ښاغلی کرزي او دده ملگرو ته تېر ۱۲ کاله ښه فرصتونه په لاس ورغلي وو خو نه یوازې له هغو یی سمه گټه وانخیسته بلکی برعکس یې په دغو فرصتونو او امکاناتو خپل شخصي او تنگنظره گټې وپاللې او په شعوري ډول یې ملي وحدت، د قانون حاکمیت، دموکراسی، عدالت او ملي اقتصاد ته ضربې ورکړې. په نتیجه کی هرڅه مافیایي شوه. نن د کرزي حکومت ته د چپاولگرانو او غاصبانو د حکومت په سترگه کتل کیږي چې مفسدین، قاچاقبران او جنایت کاره جنگسالاران پکې د پوره واک او نفوذ خاوندان دي.
له دې پرته چې د ښاغلی کرزي وروسته د هغه یو ښه او موفق ځایناستی وموندل شي گرانه ده چې راتلونکی حکومت به د افغانانو د اعتماد وړ او د نړیوالې ټولنې یو باوري ملگري وي. آیا په موجوده بې باوره او زهرجنه فضاء کی د انتخاباتو په ذریعه د کرزي پرځای د یو ښه شخص د موندلو امکان شته؟ نه. هیڅ نه. داځکه :
پاتې دریم مخ

دافغان ملت، عطامحمد نور او محمد محقق ترمنځ دټاکنو په اړه خبرې روانې دي

روهي ویبپاڼه:
ځینو رسنیو افغان ملت گوند ته دنږدې سرچینو دمعلوماتو په اساس کاږي : دولسمشری د را روانو ټاکنو په اړه افغان ملت ، محمد عطا او محمدمحقق یوې موافقې ته نږدې شوې دي سرچینه دې خبرو اترو ته دسیاسي ټاکنیزو خبرو نوم ورکړې دی . تراوسه هیڅ یوې ډلې په دې اړه رسمي نظر نه دی جرگند کړې.
پاتې ۴ مخ

پیام تبریکیهٔ شورای عالی وحدت ملی و مردمی منورین چهاردهی کابل به مناسبت حلول عید گذشتهٔ سعید فطر

به نمایندگی از شورای عالی وحدت ملی و مردمی منورین چهاردهی کابل، حلول عید سعید فطر را به جناب عالی، اعضای محترم شورای اجرائیه، شورای رهبری و کافهٔ متعهدین مجاهد، مهاجر و مؤمن حزب اسلامی افغانستان در داخل و خارج کشور، تبریک و تهنیت عرض نموده، بهترین آرزوها و تمنیات خود را برای سعادت دارین همه مسلمانان اظهار می نمایم.
از خداوند بزرگ عاجزانه استدعا می نمائیم که به برکت ماه مبارک صیام و در فردای این عیدهای نه چندان خوشایند، عید حقیقی مردم افغانستان که همانا ختم جنگ و بحران و ایجاد فضای صلح و وحدت می باشد، در افق سرزمین خسته از جنگ مان حلول نماید و ملت افغانستان در قطار سایر ملل مسلمان جایگاه اصلی خود را دریابد. (آمین) با احترام

میرویس رحیمی
رئیس شورای عالی وحدت ملی و مردمی منورین چهاردهی کابل

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د بندیانو نه وهل ښه اقدام دی

د مطبوعاتو له خولې ویل کېږي چې وسله والو طالبانو ته د کوټې شورا امر کړی چې له بندیانو سره له ناوړه چلند لاس واخلي کوم طالب چې له دغه امر څخه سرغړونه وکړي له هغه نه به وسله اخیستل کېږي او د طالبانو له لیکو به ویستل کېږي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د جگړې په ډگر کې د مخالفینو په لاس کې بندي کېدل له مړ کېدو نه زیات بد او ځوروونکی دی. مرگ یو ځل راځي، مگر بندي کېدل او بیا د مخالفینو له لوری په بې رحمانه توگه وهل، ډبول هغه څه دي چې بندي هره شېبه مرگ ته پر داسې ژوند لومړیتوب ورکوي.

ډېر د افسوس خبره ده چې په افغاني ټولنه کې د خپلو مخالفو بندیانو د تعذیبولو، وهلو، ډبولو او شکنجه کولو رواج عام دی او هر څوک د خپل مخالف په شکنجه کولو کې خوښي احساسوي په داسې حال کې چې د اسلام په سپیڅلي دین کې ددې هېڅ ځای نشته. زموږ لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه صحابه کرامو له مشرکانو، ملحدینو او کفارو سره مخامخې جگړې هم کړیدي او په گڼ شمېر کې اسیران یې هم نیولي دي خو د اسلامي تاریخ په پاڼو کې چېرته هم نه دي راغلي چې کوم بندي بې تعذیب او شکنجه کړې وي، په لختو او قمچینو وهلې وي، ویرولې او تهدید کړې وي، د اور داغونه ورته لگولي وي، په یخو اوبو کې او سور لمر ته ودرولې وي، څو څو ورځې یې له ډوډۍ اوبه او له خوبه محروم کړې وي، ځورنډ کړې وي او د اوبو په ډنډ کې غوپه کړې وي، خو له بده مرغه زموږ په ټولنه کې دا هر څه ښه په شوق او ذوق ترسره کېږي نه څوک قرآني احکامو ته گوري او نه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او سنت ته بلکې د غربي لیوانو تقلید کوي.

د اسلام سپیڅلی دین خو له مشرکانو، ملحدینو او کفارو سره د جهاد پر مهال هم دهغوی د مثله کولو او د مخونو د ورانولو په کلکه ممانعت کړې دی، مگر په افغانستان کې دا اصل کله هم نه دی رعایت شوې، یو بل یې پرمخ او سر ضربه کړي او ټول شکل او صورت یې ویجاړ او بدرنگه کړې دی.

دولت او مخالفین دواړه پر یو بل د اسلامي احکامو د نه رعایت کولو پړه اچوي، دواړه لورې یو بل له بندیانو سره پر ناوړه سلوک تورونه لگوي خو که له حقایقو نه سترگې پټې نه کړو نو له دې پرته بل څه نه شو ویلې چې د بندیانو په مسئله کې یو هم سپین باز نه دی دواړو لوریو د یو بل له زندانیانو سره زړه بوگنوونکي سلوک کړې، کوم فلمونه چې د حکومت او طالبانو په زندانو کې ډکې شوي او خلکو په خپلو سترگو لیدلي دي هغه دومره ځورونکی او له زغم نه وتلی دي چې د خلکو په اذهانو کې له کرکې پرته بل هېڅ تأثر یې نه دی پرېښې، ددوی دا کړنه د اسلام خدمت نه، بلکې د عام ولسي وگړو په زړنو کې له اسلام او د اسلام له مدعیانو سره ژوره کرکه پیدا کول دي، څومره چې د اسلام د سپیڅلی دین له لارښوونو څخه سرغړونه او انحرافات زیاتېږي همغومره د خلکو په زړونو کې د اسلام او ددې د مدعیانو پرخلاف د خلکو بې باوري هم قوي کېږي. دداسې کړنو ترسره کول په حقیقت کې د هته لاره هوارول دي چې د اسلام د مقدس دین د دښمنانو متې او پلانونه پیاوړې او هغوی ته د اسلام د بدنامولو پراخ فرصت ورکړی شي.

حکومت او مخالفین دې دا واقعیت درک کړي چې د بندیانو د شکنجه کولو او تعذیبولو له لارې کله هم یو بل نشي لاندې کولې، بلکې په دې سره د انتقام او غچ اخیستنې روحیه نور هم پیاوړې کېږي، پکار خو داده چې دواړه لورې په گډه د خپل دین، هېواد او ملت د گټو لپاره د سولې په ټغر کیني او ټول پخپلو کې ژمنه وکړي چې له بل هر څه نه به خپل دین، خاورې، ولس، استقلال او ملي وحدت ته لومړیتوب ورکوي. که دا یې د لاسه نه کېږي او پخپل نفس پښه نشي ایښودلې نو لږ تر لږه دې پخپلو کې په دې خبره موافقه وکړي چې د یو بل د بندیانو له ځورولو، وهلو، ټکولو او شکنجه کولو څخه په کلکه ډډه وکړي، د بندیانو دهغو حقوقو احترام وکړي چې الله او دهغه رسول ورته ورکړي دي، چې د هغو له جملې څخه یو یې دا هم ده چې بندي شکنجه او تعذیب نه شي او د انساني حرمت خیال یې وساتل شي. ددغه کار په عملي کولو سره به ددې خبرې قوي امکان راپیدا شي چې د یو بل په خلاف د انتقام سرې لمبې سړې او بالاخر د راروانو جگړو د حل معقوله لاره هم راپیدا شي.

د افغانستان جنگ ځپلی ولس د طالبانو د مشرتابه ددغه اقدام هرکلی کوي او له حکومت نه هم په جدي ډول غواړي چې د مخالفینو د بندیانو له وهلو، ډبولو، تعذیبولو او شکنجه کولو څخه په کلکه ډډه وکړي، تر څو د بندیانو اسلامي او انساني حقوق پرځای او د جگړې د اور د مړه کېدو امکانات پراخ شي.

محمد خلیل

د فساد عاملین او مخنیوي یې



له دې واقعیت نه هېڅوک انکار نشي کولې چې په دولت کې فساد نه دهقان پیدا کړې دی نه ختگر او آهنگر، نه دکاندار پیدا کړې دی، نه چوپان او بل کوم کسبگر.

د فساد ستر ستر عاملین هر چاته څرگند دي، هر فاسد خپل ځان ښه پیژني، دهغه د فساد ثبوتونه د روښان لمر په څېر څرگند دي، له څه پلټنې او غور پرته پخپله غږ کوي چې زه د فلان فسادي څرگنده نښه او ثبوت یم، په افغانستان کې د فاسدو واکمنانو هوټلونه، پلازې، بلندمنزلونه، لوی لوی تجارتونه او زرگونه جریبه غصب شوي زمکې هر چاته په لوړ غږ چیغه وهي چې ددې هېواد فاسد واکمنان څوک دي، چېرته دي او څه کوي؟! ددغو فاسدو واکمنانو خولې گونگی دي مگر دهغوی ناروا جایدادونه د خپلو مالکانو نومونه ۲۴ ساعته د ملت په وړاندې رسوا کوي او ورته وایي چې ددغې خاورې غداران او لوټماران هغه واکمنان دي چې د خپلې واکمنۍ په موده کې د ملیاردو ډالرو او جایدادونو مالکان جوړ شوي دي، دغه دوکه شوي او په تیاره کې ساتل شوې بدبخت ولس دې پدې واقعیت پوه شي چې تر ننه پورې د افغانستان مسلمان ولس د خپلو همدغو واکمنانو دلاسه کړېږي همدغو واکمنانو تل د دروغو شعارونو او شنه چراغونو په ښودلو سره له ولس سره خیانت کړیدی، همدوی دی چې د خپلو شخصي گټو په خاطر جعلي اختلافونه پیدا کړي، پخپلو کې سره جوړ دي او د یو بل گټې پالي، د پردې تر شاه د یو بل متې قوي کوي خو د پردې پرمخ د فلمي اداکارانو په څېر د وهلو، ټکولو اکتونه اجرا کوي.

د فساد، غبن، لوټ ماري، غصب او نورو ډول ډول خیانتونو په خلاف سیمینارونه جوړول، په راډیو تلویزیون او رسنیو کې د فساد د ختمولو لپاره ډول ډول شعارونه او ډرامې ښودل د ولس د غافل ساتلو پرته بل هېڅ مفهوم نه لري، دوی رشوت هم خوري او پر رشوت خوري د قابو کولو لپاره د سړکونو پر غاړه د رشوت خوري د بدو عواقبو انځورونه هم په لویو لویو لوحو کې خلکو ته ښکاره کوي، ددوی مثال بالکل داسې دی لکه چې یو سړې د یو چا پر غاړه چاړه هم راکاږي او په زوره زوره ژړا هم کوي، دوی فساد هم کوي او بیا د فساد په خلاف ژړا هم، تر څو خپل دغه ناوړه جرمونه او ناولي مخونه له ساده ولس نه پټ وساتي.

د افغانستان مسلمان ولس دې دا واقعیت ومني چې لوړ پوړي چارواکی د استرالیا د ځنگل د زمریانو په څېر د خپل ولس د وینو د زبیښلو لپاره یو موټې شوي، لکه څنگه چې په ځنگل کې د لویو لویو غرڅو، ځنگلي میښو، اسونو، اوښانو او زیبراگانو د ښکار کولو لپاره ټول په گډه حمله کوي او په یوځای وینې او غوښې یې خوري، همداسې حکومتي واکمنانو هم له پورته نیولې تر لاندې پورې د دولت د مال او جایداد د تروړلو او غصبولو لپاره یو بل ته لاسونه ورکړي دي، د یو بل واسطه مني او د یو بل مراعات کوي، که داسې نه وي نو بیا تراوسه غاصبین او مفسدین ولې آزاد گرځي؟ ولې له یو والي، وزیر، ښاروال او ولسوال نه دهغه د بې دریغه مال او جایداد حساب نه اخلي چا د دوی مخه ډب کړی او حساب او کتاب له اخستلو څخه یې منع کړی دی؟! له دې معلوم شو چې تر اوسه ددوی ترمنځ تو مرا حاجي بگو و من ترا حاجي بگویم په فارموله عمل کېږي، دلته هېڅ واکمن د ملت په غم کې نه دی، په پارلمان، مشرانو جرگه او ولایتي شوراگانو کې هم ددوی کسان حضور پیدا کوي او نورو لوړو څوکیو ته هم ددوی د کورنۍ غړي رسېږي، په ټولو ناقانونه کارونو کې د یو بل د گټو د خوندیتوب لپاره لاسونه ورکوي.

تر څو پورې چې دغه مافیایي کړۍ د اقتدار پر گدۍ ناسته وي او له دې نه د خلاصون لپاره ملت خپل ایماني او افغاني مسؤولیت ترسره نه کړي دوی به کله هم له خپلو دغو ناوړو کړنو څخه لاس په سر نه شي، د مداریانو په څېر به یې کله په یو لوبه بوخت ساتي او کله په بله لوبه، دوی به ورځ تر بلې پړسېږي او غټېږي به، مگر بیچاره ملت بهٔ نه د یوې نوړۍ ډوډۍ خاوند شي نه به د سر پټولو د جونگړې، نه به خپل حق ترلاسه کولې شي او نه به هم عزت آبرو، په دفترونو کې به څو څو ورځې ډیکې خوري خو کارونه به یې نه کېږي د واکمنانو نااهله اولادونه او خپلوان به رئیسان او مدیران وي مگر د مظلوم ولس لایق اولادونه به دهغوی ترلاس لاندې د غلامانو په څېر کار کوي. زحمت او خواري به هغوی کوي مگر ډالري معاشونه به د واکمنانو زامن او خپلوان اخلي. ددغه ظالمو او جابرو واکمنانو به څپیړې وي چې د مظلوم ولس پر مخونو به ورېږي، بدې ردې، سپورې او سپکې به وي چې په هر مجلس، هره اداره او هره محله او هجره کې ورته اورول کېږي. افغان مسلمان ولس چې د خپل عزت ابرو او حقوقو د



دفاع لپاره له بل هر چا زیاته قرباني ورکړی نور که څه نشي کولې دومره خو کولې شي چې راتلونکی ولسمشریزه او پارلماني ټاکنو کې خپله قیمتي رأی د څو زرو ذلیلو پیسو په بدل کې خرڅ نه کړي او هغه چاته وانچوي چې تراوسه د ملت په سرنوشت لوبې کړې دي، بلکې هغه چاته ورکړي چې هغه له خپل ولس سره مینه لرونکې، همدرد او زړه سواندی وي، په هغو هېوادونو کې چې د پارلمان وکیلان او ولسمشر د خلکو په رایو ټاکل کېږي، هلته د یو مثبت انقلاب د راوستلو تر ټولو ښه او آسانه لاره د خپلو رایو صحیح استعمال دی چې د ترکیې هېواد یې ښه بېلگه ده. هلته نه چا ټوپک اوچت کړی او نه توره بلکې د خپلې رأی په زور د هېواد واگې اهل کسانو ته سپارلي دي او د ښه حکومت خاوندان شوي وي.

راتلونکی انتخابات به سم نه وي

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

... انتخابات باید عام (سرتاسري)، روڼ او آزاد وي؛عیني واقعیتونه ښيي چې راتلونکی انتخابات به عام، آزاد او روڼ نه وي. له درغلیو په ډکو انتخاباتو به داخلي منازعات نور تشدید او ملي وحدت به مزید تضعیف شي. جنګسالاران، د بشردحقونو ناقضین، د مخدره موادو کاروباریان او مافیایی کړی به خانونه د ټګیو ډکو انتخاباتو له لارې په واک کې همداسی وساتي. او تر اوس لابه نور هم سپین سترګی شي او په دې باور به شي چې هیڅوک دوی له صحنې نشي لیری کولای او افغانستان تر ډېره ددوی او د دوی د اولادونو په ولکه کی دی.

د ۲۰۰۹ کال د جمهوری ریاست او وړپسې د ولسي جرګې په انتخاباتو کې په پراخه کچه درغلی وشوې او هیڅ داسې دلیل او نښې نښانې نشته چې د ۲۰۱۴ کال انتخابات به بهتر وي؛ بلکې عینی شرایط حکم کوي چې بدتر به وي او پر ټول افغانستان به په غزني کی د ولسي جرګې د تیر انتخابات مثال تطبیق شي.

د تیرو انتخاباتو راوروسته د دولت په نظام کی داسی کوم مثبت بدلون نه دی راغلی چې موږ شفاف، عام او آزادو انتخاباتو ته هیله من کړي. بلکی دولتی دستګاه نوره هم فاسده شوې او راتلونکو انتخاباتو ته سر له اوسه په دولت کی حاکمو مافیاؤ تیاری نیولي چې څنګه بې پخپله ګټه وکاروي. په دولت کی دننه د زورواکانو لخوا خپلو داړه مارو ته غیرقانونی وسلی ویشل د شفاف انتخابات په خلاف ددغو مافیایی کړیو ښکاره هڅو یوه بیلګه ده.

داچې ولې به انتخابات روڼ، آزاد او عام نه وی، علت یې دا دی چې:

په افغانستان کی تر نیمی ډیره برخه یا د طالبانو تر کنترول لاندي ده او یایی تر تهدید لاندې چې حکومت ته مزاحمت جوړولای شي او انتخابات نشي عملی کولای. انتخابات به یوازي د دولت د کنترول په سیمه کی کیږي چې اکثره ښارونه دي. په کابل پورې نښتي لوګر ولایت کی دا څو میاشتی کیږي دولتی اداري محاصره دي او حکومت خواره نشي وررسولای. داخله وزارت همدا اوس د انتخاباتو کمیسون ته ویلی دي چې د ۲۵۹ انتخابی مرکزونو امنیت نشي نیولای. یعنی د افغانستان امنیتی اورګانونه اعتراف کوي چې د هیواد په کچه په هره ولسوالي کی حداقل د یوه انتخاباتی مرکز امنیت نشي نیولای. اوس انتخابات ته اته میاشتی پاته دي او یقینا د انتخابات په ورځ به دا رقم لس چنده وي. یوازي د انتخاباتی مرکز امنیت مطرح نه دی بلکی د هغو کسانو امنیت هم مهم دی چې دغو مرکزونو ته د رایه اچولو لپاره ورځی. دولت چې اعتراف کوي چې د ولسوالیو د مرکز امنیت نشي نیولای نو د ولسوالیو د اطرافو امنیت به څنګه ونیسي څو خلک وکولای شي په اطمئنان د رایه اچولو مرکزونو ته ورشي. په دې ډول به هغه خلک چې د طالبانو د کنترول یا تهدید په ساحه کی دي په انتخاباتو کی د برخې اخیستو موقع ونه لري او په نتیجه کی به انتخابات عام او آزاد نه وي. هغه خلک چې انتخابات کی به برخه نشي اخیستلای اکثریت جوړوي.

پر هیواد تیر ۱۲ کاله جنګسالاران، دبشر د حقوقو ناقضین او مافیایی کړی حاکم دي. هغوی نه غواړي یو سم حکومت رامنځته شي. هغوی به راتلونکی انتخابات هم لکه تیر جمهوری ریاست او پارلمانی انتخابات پخپله ګټه کاروي او پراخې درغلی به پکښي کوي. د کورنیو چارو پخواني وزیر ښاغلی علی احمد جلالی ویلي وو چې د دولت ۴ وزیران او ۱۳ والیان مستقیما د مخدره مواد په قاچاق کی لاس لري. اوسنی داخله وزیر ښاغلی مجتبی پتنګ وایی چې دولت د لیوانو په ولکه کی دی. لیوان چیري غواړی آزاد، شفاف او عام انتخابات وشي. هغوی تر ویش په چور خوښ دي او کوښښ کوي چې همدغه حالت دوام پیدا کړي.

همدا اوس د هیواد په شمال کی په خلکو وسلې ویشل کیږي چې د انتخاباتو په وخت کې پخپله ګټه کار ځینی واخلي. خلکو څو اونی دمخه د پروان په مرکز چاریکار کی مظاهرې وکړی چې په دولت مربوطې کړی په خلکو کی وسلې ویشی څو د سیمی امن خراب او پر راتلونکی انتخاباتو اعمال نفوذ وکړي. د کورنیو چارو وزیر ښاغلی مجتبی پتنګ څه وخت مخکی مشرانو جرګې ته ویلی وه چې په هیواد کی سوو زره میله غیرقانونی وسله د غیر مسؤلو زورواکانو په لاس کی ده چې د خلکو امنیت یی خراب کړی دی او دولت ته یی ډیري سیاسی او ټولنیزي ستونزي پیدا کړیدي. د سیاسي ستونزو څخه یوه همدا ده چې انتخابات پخپله ګټه وکاروي.

د دولت موجوده فاسد ټیم به په ۲۰۱۴ کې انتخابات په داسې حال کې رهبري کوي چې د ناټو حضور به کمرنګه وي او مافیایی کړی به د ځان له ویرې هرڅه (د انتخاباتو په شمول) پخپله ګټه کاروي. افغانان به هیڅ دا هیله نه لري چې په انتخاباتو سره کولای شي تغییر او بدلون راولي.

د مرکزي دولت کمزوري یو بل علت دی چې شفاف، عام او آزاد انتخابات نشي ترسره کولای. د مثال په ډول ښاغلی فیض الله ذکی په ولسي جرګه کی وکیل او د رشید دوستم ویاند دی. هغه یو وزیر ته د دوستم د مرضی پرته رایه ورکړې وه. دوستم هغه په عام محضر کی دومره وواهه چې بیهوشه د مرګ پر بستر د علاج لپاره ازبکستان ته یوووړل شو. دولت یی هیڅ پوښتنه ونکړای شو. څو اونی مخکی د جوزجان والي ښاغلی ساعی د جمهور رئیس په امر کوم کار کړی وو چې د دوستم نه وو خوښ شوی. دوستم د هغه پر کور ورغی او هغه یی د ولایت څخه وشاړه. جمهور رئیس د والی دفاع ونکړای شوه او په عوض کی یې د دوستم په خوښه بل والي جوزجان ته معرفي کړ. نوي والي د دندې د اشغال په وختکی د زرو خلکو په مخکی رشید دوستم ته په اشاره وویل چې زه ستاسی کوچنی زوی او خدمتګار یم او هر امر چې کوئ تابعدار. په دغسی فضاء کی شفاف، عام او آزادانه انتخابات څنګه کیدای شی؟

اوس پر هیواد جنګی اقتصاد حاکم دی او په جنګ کی داسی کړی شته چې د جنګ دوام یی په ګټه دی. هغوی نه غواړي جنګ ختم شي. هغوی نه پریږدي چې عام، شفاف او آزاد انتخابات تر سره شي ترڅو د هغه له لاری په هیواد کی امن او استقرار راشي. بلکی هغوی که انتخابات ته مجبور هم شي، نو باید کلستري انتخابات وکړي. انتخابات باید په هغو ځایو کی وشي چیري چې ددوی نفوذ دی او په هغو ځایو کی قصدا بې امنې جوړه کړي په کوم کی چې ددوی نفوذ نشته څو دوی د خپل نفوذ تر ساحو لاندی انتخاباتو نتیجه پر هغو سیمو وتړپې چې انتخابات نه دي پکی شوي. په تیر پارلمانی انتخاباتو کی غزني د کلستري انتخاباتو ښه مثال دی. په غزني کی له ۱۸ ولسوالیو څخه یوازي دوه نیمی هزاره دي او نور ټول پښتانه دی. خو ټول وکیلان هزاره راغلل. اوس د غزنی وکیلان نه د پښتنو سیمو ته تلای شي او نه پښتانه هزاره وکیلانو ته د کوم کار لپاره ورځي. دغو کلستري انتخاباتو څه مشکل حل کړ؟ بلکی دموکراسي یی بدنامه، قومی تنفر یی ډیر او ملی وحدت ته یی صدمه ورسول. راتلونکی انتخابات به هم همداسي وي.

په جنګ کی عام، شفاف او آزاد انتخابات نه شي کیدای. انتخابات د دموکراسی مظهر دی او دموکراسي یوازي په امن کی مطرح ده. څو کسه د یوې څوکی د اشغالولو لپاره کاندید دي. هغوی پخپل منځکی توافق ته نه رسیږي چې یو او بل ته تیر شي او ټول پر یوه چا لاس کښیږدي. خو ټول پردغه خبره موافقه کوي چې راشئ ملت ته مراجعه وکړو چې په موږ کی پر چا لاس ایږدي؛ موږ به ټول د ملت د اکثریت فیصله منو او ټول به د هغه کس اطاعت کوو کوم چې ملت په موږ کی خوښ کړی دی. دلته انتخابات د نزاع د له منځه تلو او امن او استقرار سبب کیږي. په دموکراسي کی پر انتخابات او د هغو د نتایجو پر تسلیمي د ټولو اړخونو لخوا مخکنی توافق شرط دی. خو که دا مشران پخپل منځکی دومره بیل او حتی په جنګ وي، بیا نو انتخابات مشکل نه شي حلولای بلکی نور مشکلات پیدا کوي. که یو څوک خپل د نفوذ په ساحه کی انتخابات وکړي او خپل رقیب ته ووایی چې نتیجه یی ته باید ومنې؛ زه رئیس جمهور شوم او ته باید زما اطاعت وکړې. په دغه ډول کلستري انتخاباتو مشکل نه حلیږي. داځکه هغه بل ددغه انتخاباتو نتیجه نه مني. تصور وکړئ چې انتخابات به په پنجشیر کی کیږي او نتیجه یی باید د پکتیا خلک بیله دې چې رایه یې صندوق ته اچولې وي ومني. د بامیان د انتخابات نتیجه باید د کندهار خلک په پټو سترګو ومني. د جوزجان د انتخابات نتیجه دې د ننګرهار خلک ومني. همداسي نوري سیمي درواخله. دلته د پکتیا، کندهار، ننګرهار او ... خلکو ته څوک دا حق نه ورکوي چې ووایی دولت دې امن تأمین کړي چې موږ په انتخاباتو کی آزادانه برخه واخلو؛ بیا نو که هرچا وګټل. بلکه ورته وایی چې دا ستا ګناه ده چې په سیمه کی دي جنګ دی؛ دولت ذمه واري نه لري چې امن تأمین او تاته د رایه ورکولو موقع برابره کړي. ته باید ددغه جنګ سزا ووینې او زه باید زما د کلی په رایه پر تا حاکم یم. دغسی انتخابات مشکل نه شي حلولای چې په یوه کلی کی دي انتخابات وشي او نتیجه یې باید پر ټول هیواد وتپل شي. دغسی انتخابات نه دموکراتک دي او نه کوم مشکل پری حل کیږي. تر کولو یی نه کول بهتر دي.

پښتانه چې د هیواد اکثریت دي اوس رایه نه لري. د هیواد په شمال کی پښتانه دومره تر فشار لاندي او لاس تړلي پراته دي چې د رایی آزاد او شفاف استعمال ته یی څوک قطعا نه پریږدي. په تیرو انتخاباتو کی هم چا آزادانه د رایی استعمال ته پرې نښوول. په تیر ۱۲ کاله کی په شمال کی هیڅ یو پښتون والی مقرر نشو او کندز کی چې ۷۰٪ خلک یی پښتانه دی، که پښتون والی پکي مقرر شوی وی نو هغه به هم د جمعیت او شوری نظار وي. په جنوب، غرب او شرق کی (له هرات تر نورستان) په پښتنو کی داسی څوک چا نه دی پرې ایښی چې د فیهم، عطاء، دوستم او محقق سره په نظامی قوت کی انډول وي. که د امریکایانو سره د اقلیتونو قوماندانان راغلل نو یو شمیر پښتانه قوماندانان هم راغلل. ولې د هغوی دا تقویه شول او د پښتنو دا مړه او یا بیوسه شول؟ اوس پښتني سیمی ټول د طالبانو تر مستقیم یا غیرمستقیم نفوذ او تهدید لاندی دي او هغوی انتخابات نه مني. په دې ډول پښتنو ته په ټول افغانستان کی د آزاد انتخابات موقع نشته. انتخابات به په پنجشیر، مزارشریف، جوزجان او بامیان کی کیږی او نتیجه یی باید دا نوري سیمی په زور ومني (لکه په غزنی کی چې وشوه). انتخابات به په غیرپښتنی سیمو کی کیږي خو نتیجه یی باید پر پښتنو تطبیق شي. حکومت به اقلیتونه جوړوی او پښتانه یی باید په پټو سترګو ومني. اصلی قدرت به د اقلیتونو په لاس کی وي؛ داځکه هلته انتخابات شویدي. خو ددی لپاره چې څوک ونه وایی چې دغه حکومت ملی او د ټول هیواد په سطح نه دی نو یو ګوډاګی پښتون به پیدا کوي چې په سر کی یې د خپلو ګټو د تأمین لپاره د جمهور رئیس په نوم کښینوي څو هم د انتخابات نتایج ته مشروعیت په ورکړي او هم خپل ضیق البنیاده حکومت ته ملی رنګ. دغسی درغل انتخابات او د هغه په نتیجه کی دغسی یو غیر ملی حکومت به د هیواد مشکلات څه حل کړي.

له بلې خوا پر اقلیتونو هم لوی ظلم او بی عدالتی روانه ده او دغه شریفې پرګنې د خپل قومی مشرانو په نوم د مافیایی کړیو په منګلو کی راګیر دي. د هغوی آواز څوک نه اوري او مشروع حق ته یی څوک نه دي قایل. هغوی تر پښتنو هم زیات د زړه سوي دي. هغوی خپل رایه په سمه توګه نشي استعمالولای. هغوی په رایه ورکولو کی آزاد نه دي؛ د هغوی په سیمو کی انتخابات شفاف نه دي بلکی د زورواکانو د نفوذ په سیوري کی تر سره کیږي. هغوی به هغه چا ته رایه ورکوي چې زورواک ورته وایی. فیض الله ذکی، ساعی او اکبربای سره بده معامله څکه وشوه چې هغوی په غلطه فکر کاوه چې دلته دولت دی، رئیس جمهور دی، اساسی قانون دی؛ که دوی د دولت د قانون او مقرراتو مطابق کار وکړي نو د دولت لخوا به حمایت شی. خو هغسی ونشوه او دولت د دوستم د خودسریو مخ ونه نیولای شو. په دغسی مختنقه فضاء کی به انتخابات په کوم منطق شفاف، عام او آزاد وي.

د دولت ټول نظام د بون د کنفرانس راهیسی پر قومی تنفر او د پښتون په سپکه جوړ شوی دی. دغه حالت د دولت پایی کمزوره کړیدی، د قانون تطبیق یی مشکل کړیدی او د طالبانو بیا ظهور او د هغوی ملاتړ ته یی موقع ورکړې ده. په شمال کی عطاء محمد نور په داسی حال کی چې د بلخ والی دی خو د رئیس جمهور امر نه مني او رئیس جمهور هم هیڅ نه شی ورته ویلای. هلته ددولت مامور بی دده له موافقی نشی کار کولای. د انتخابات نظارت به دده د مرضی خلاف څنګه وشي؟ دده د نفوذ په ساحه کی به انتخابات په کوم منطق شفاف او آزاد وي.

د دولت مهم اورګانونه د مافیا په کنترول کی دي. د دایکندی څخه چې تر پرون پوري ولسوالی وه سږکال ۳۵۰۰ شاګردان پوهنتون ته کامیاب شول چې ۸۲۰ تنه یی د کابل پوهنتون ته او هغه هم اکثره د طب، انجنیری او کمپیوتر پوهنځیو ته بریالی اعلان شویدي. په داسی حال کی چې له ټول کندهار څخه ۶۳۰ تنه کامیاب او هغه هم د فاریاب او نورستان پوهنتونونو ته ورکول شویدي. په دغه کانکور کې تر ۷۰۰ ډیرو شاګردانو له دایکندي څخه په پښتو ژبه کی سل نمرې وړیدي. یو هلک چې د دایکندی په یو کلی کی پیدا او لوی شوی وي او هیڅ پښتون یی نه وی لیدلی، څنګه سل نمرې وړلای شي؛ هغه هم د یوې ولسوالی په سوو شاګردان. سوچ پښتانه سل نمرې په مشکل وړلای شي. که همدا اوس د دایکندي له هغو شاګردانو څخه چې په پښتو کی یی سل نمرې وړې دي امتحان واخیستل شي، نتیجه به یې برعکس وي. خو ټول اوس په پوهنتون کی ناست دي او د هیواد راتلونکی یې په لاس کی ورکول شویده. دغه حالت چې واقعا یوه فاجعه ده د یو سازمانی فراډ او فساد په نتیجه کی منځته راغلی دی او دولت یی نسی کنترولولای؛ داځکه د دولت هغه عالیرتبه مامورین چې قانون باید تطبیق کړي او د فساد مخ باید ونیسي پخپله مفسدین دي. د سازماني مفسدینو په لاس شفاف انتخابات څنګه کیدای شي؟

د بانکونو د مدیرانو لخوا د بانکونه چوریدل، د دولت تصدیاني د دولت د مهمو اراکینو لخوا لوټیدل او په وزارتونو کی د لوړ رتبه مامورینو لخوا د رشوت او سوء استفادې پلانونه جوړیدل ټول سازمانی فساد دی. رشوت او خیانت په ډیرو ځایو کی شته خو سازمانی فساد ښایی یوازي زموږ په هیواد کی وي. ډیر کم موږ اوریدلی دي چې بانکدارانو خپل بانک پخپله چور کړی وي او یا دولت خپل تصدیانی پخپله لوټ کړي وي. ددغسی سازمانی فساد په ماحول کی شفاف، آزاد او سرتاسري انتخابات خوب و خیال دی چې مافیا به اعمال نفوذ پکې نه کوي.

د دولت امنیتی اورګانونه ملی نه دي. په فوج، پولیس او استخباراتو کی پښتانه ډیر کم دي. او نور هم په واسطه مقرر شویدي. داخله وزیر مشرانو جرکی ته ویلی وه چې زموږ پولیس او فوج ملی نه دی بلکی تنظیمی او قومی دی. نړیواله ټولنه هم همدا شکایت کوي چې د هیواد امنیتی اورګانونه ملی صبغه نه لري. دغه سبب دی چې په مزار، جوزجان، پنجشیر او دایکندي کی امنیتی اورګانونه د والی امر مني خو د رئیس جمهور نه. په دې ډول به انتخابات هم د والی لخوا څنګه چې یې زړه غواړی همهغسی تنظیم کیږي، نه د دولت د مقرراتو لخوا.

ترڅو افغانستان کی سوله نه وی راغلی او پښتنو ته د رایی د ورکولو موقع نه وي ورکړه شوې، غیرپښتانه هم د مافیا له منګلو نه وي خلاص شوي، فساد نه وی کنترول شوی او ښه حکومتداري نه وي منځته راغلې دغسی توپیري، سیمه ایز کلستري انتخابات په حقیقت کی د ټول افغان ولس په خلاف یوه دسیسه ده.

د دولت موجوده فاسد ټیم به په ۲۰۱۴ کی انتخابات په داسی حال کی رهبري کوي چې د ناټو حضور به کمرنګه وي او مافیایی کړی به د ځان له ویری هرڅه (د انتخابات په شمول) پخپله ګټه کاروي. افغانان به هیڅ دا هیله نه لري چې په انتخاباتو سره کولای شي تغییر او بدلون راولي. که اوسني فاسد او ناتوان حکومت ته د انتخاباتو د ترسره کولو واک پریښودل شي نو دا به په حقیقت کې دلسو نورو کلونو لپاره د جنګ ادامه او د یوه فاسد نظام پر تقویې د تائید مهر لګول وي. اوس عاجله اړتیا دا ده چې یوه سرپرسته اداره رامنځته شي او د افغانستان د اوسني حالت کنترول او واک په لاس کی واخلی او په دې ډول موجوده ناخوالو ته د پای ټکی کیږدي.

دغه ربګ موناسي غورا ست ګوګولي پاسئ چي پر خلګو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل خلیل

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسوول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چي د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسي اصلاح کړي چي د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

ملل متحد له پاکستانه په افغانستان ...

بناغلي مون افغانستان کې د امنیت لپاره د سیمې د هېوادونو پر همکاری ټینګار وکړ.
هغه وویل: "له افغانستانه د بهرنیو پوځیانو وتل به یوازې د افغان ولس او د حکومت لپاره نه، بلکې د ملګروملتونو او د سیمې د هېوادونو لپاره هم یوه ننګونه وي".
ده زیاته کړه، چې د امریکا په ګډون د ناټو په غړو هېوادونواو ځینو مهمو اروپایي هېوادونو یې ټینګار کړی چې افغان ځواکونوته دې سامان الات او نور وسایل برابر کړي چې د افغان پوځ صلاحیت پیاوړی شي.
د ملګرو ملتونو سرمنشي د پاکستان او هند ترمنځ په رواني لانجې اندېښنه وښوده او وویل چې د کنټرول پر کرښه د ډزو د تبادلې په پایلو کې پر مرګ ژوبله خواشینی دی.
هغه وویل که چېرې هند او پاکستان دواړه پرې راضي شي، د پاکستان او هند ترمنځ د تاوتریخوالي ختمولو لپاره منځګړیتوب کولو ته چمتو دی.
د پاکستان په قبایلي سیمې کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو د بریدونو په اړه پوښتنې ته په ځواب کې بان کي مون وویل چې د دې بریدونوپه پایلو کې د ملکي وګړو په وژنه او ټپي کېدو ډېر اندېښمن دی.
هغه ټینګار وکړ چې د دې الوتکواستعمال کې باید له نړیوالو قوانینو سرغړونه ونه شي.

ایتلاف ملی با ایجاد دفتر برای...

گفتگو ها زیر سایه و حضور پاکستان در این دو کشور صورت بگیرد.
به همین دلیل دفتر قطر به انتخاب امریکایی ها مطرح شد بخاطریکه تا حدود دور از ساحه نفوذ پاکستان گفتگو ها صورت بگیرد."
آقای سنچاره کی افزود، حکومت افغانستان قصد دارد تا به کشور های منطقه رو آورد و بخاطر بدست آوردن امتیازات، به کشور های غربی به خصوص بر ایالات متحده امریکا فشار وارد کند.
وی تفاهمنامهء همکاری های ستراتیژیک با ایران را که در سفر اخیر رییس جمهور کرزی به تهران میان روسای شورا های امنیت ملی دو کشور به امضا رسید، یکی از حربه های حکومت افغانستان جهت وارد کردن فشار بر امریکا خواند.
اعضای ایتلاف ملی از حکومت افغانستان می خواهند تا دفتر طالبان را در داخل افغانستان افتتاح نموده و امنیت آنان را تامین کند.
این مسالهء است که رییس جمهور کرزی بار ها روی آن تاکید کرده و از طالبان مسلح خواسته است که به گفتگو های صلح در داخل افغانستان حاضر گردند.
مقام های حکومت افغانستان تاکید کرده اند که در صورت باز شدن دفتر طالبان در خارج از کشور پس از گفتگو های ابتدایی این دفتر به افغانستان انتقال داده خواهد شد.

رییس جمهور کرزی در اواخر ...

ناظرین به این باور اند که پاکستان می تواند در پروسه صلح افغانستان، نقش مهم و اصلی را داشته باشد.
از سوی دیگر شماری از احزاب مخالف حکومت افغانستان می گویند: تا زمانی که جامعه بین المللی بر پاکستان فشار وارد نکند، این کشور شرایط افغانستان در تلاش های صلح را نخواهد پذیرفت.
سید آقا فاضل سانچار کی سخنگوی ایتلاف ملی افغانستان در صحبت با رادیوآزادی گفت، بدون این فشار سفر رییس جمهور کرزی به پاکستان نیز دست آوردی به همراه نخواهد داشت.
این اظهارات در باره سفر رییس جمهور کرزی به پاکستان و تلاش های صلح در حالی مطرح می شود که حکومت افغانستان هفته گذشته گفته بود: بهتر خواهد بود تا دفتر طالبان به جای قطر در ترکیه و یا هم عربستان سعودی باز شود.
دفتر قطر برای طالبان پس از آن بسته شد که حکومت افغانستان روی نصب بیرق این گروه و همچنان لوحه امارت اسلامی افغانستان در این دفتر مخالفت کرد.
خبر گزاری رویترز می گوید: از سال ۲۰۰۲ میلادی تا حالا رییس جمهور کرزی نزده بار از پاکستان دیدن کرده است.
گفته می شود که در برخی موارد کرزی توانسته تا حمایت اسلام آباد را جلب کند اما تا حالا در خصوص صلح و ثبات افغانستان، کدام تعهد این کشور جامه عمل نپوشیده است.

هر شش ماه از فعالیت پولیس محلی...

صدیق صدیقی سخنگوی این وزارت به روز سه شنبه در صحت با رادیو آزادی گفت که این اقدام به هدف جلو گیری از تخطی های پولیس محلی روی دست گرفته شده است.
آقای صدیقی افزود:
"در مجموع یک تشکیل بزرگ است و شیوه های نظارتی و تفتیشی ما از عمکرد پولیس محلی بسیار جدی است، ما در هر شش ماه بیش از ۱۰۰ تیم تفتیشی و نظارتی را به ولایات مختلف ارسال می کنیم تا از نزدیک شکایات را بررسی کنند و یا از عملکرد خود پولیس محلی در ولایات که فعالیت دارند بررسی بکنند."
قرار معلومات وزارت داخلهء در حال حاضر حدود ۲۲ هزار پولیس محلی در ولایات مختلف کشور فعالیت دارند.
گفته می شود، این پولیس در مناطق نا امن افغانستان برای جنگ با مخالفین و تامین امنیت قریه جات تاسیس شده اند.
تیم های نظارتی فعالیت های پولیس محلی در حالی تاسیس شده اند که در برخی موارد شکایاتی از خود سری و آزار و اذیت مردم توسط این پولیس به نشر رسیده اند.
مقام های این وزارت هم برخی تخطی های پولیس محلی را تایید کرده می گویند که در سال گذشته بیش از ۱۰۰ تن از افراد را که متهم به کارهای غیر قانونی شده اند به لوی خارنوالی معرفی کرده اند.
در عین حال وزارت داخله تاکید دارد که ایجاد پولیس محلی در تامین امنیت مناطق دور دست کشور موثریتی چشمگیر داشته است.
اما برخی از کارشناسان نظامی با اشاره به یک سلسله خود سری های پولیس محلی در ولایات کشور، شکل گیری این پولیس را یک اقدام غیرقانونی و به زیان کشور می دانند.
امرالله امان یک تن ازاین کارشناسان:
"تمام اجراات که در سکتورهای امنیتی کشور صورت گرفته است خلاف قوانین امنیتی افغانستان بوده است. ما هیچ نوع نیروی اضافی یا همتای نیروی سکتورهای امنیتی خود در قانون به شکل جداگانه نداریم، ما از نیروهای امنیتی خود در قانون اساسی افغانستان تعریف مشخص داریم، وزارت داخله، وزارت دفاع و ریاست امنیت ملی هستند، اما جدا از این ها که هر رقم نیروی دیگر باشد که تحت قوانین نظام نه آید و آنها خود سری کنند و از یک مرکز واحد اداره نشوند، این ها تمام شان به ضرر افغانستان اند و حتا نمی توانند که در بخش تامین منافع ملی افغانستان کار کنند."
آقای امان همچنان گفت که اگر همچو نیروها در تشکیلات پولیس، اردو و امنیت ملی به طور منظم و پاسخ گو شکل گیرد، به مفاد افغانستان خواهد بود.
اما وزارت داخله افغانستان همواره گفته است که این نیروها در چوکات پولیس ملی تشکیل شده و کارمندان آن آموزش های لازم مسلکی را فراه گرفته اند.

جاپان د کابل پوهنتون کمپیوټر ...

موده کې په څلورو پوړونو کې په اساسي ډول جوړیږي.
د هغه د معلوماتو له مخې، دمګړی د کمپیوټر ساینس پوهنځي محصلین د ساینس پوهنځي په ودانۍ کې په زده کړه بوخت دي، خو د خای د کموالي له امله له ستونزو سره مخ دي.
د لوړو زده کړو وزیر وایي، چې جاپان په تېرو ۱۱ کلونو کې له افغانستان سره د پام وړ مرستې کړي او هیله ده، چې دغه مرستې ادامه پیدا کړي.
د عبید په وینا:
د لوړو زده کړو وزارت هڅې کوي، چې په ټول هېواد کې د پوهنتونونو د ودانیو د کمښت ستونزه لرې شي، تر څو دغه وزارت وکولای شي د کانکور په ازموینه کې په لوړه کچه زده کوونکي د لوړو زده کړو موسسو ته جذب کړي.
عبیدالله عبید دا هم وویل، چې جاپان له کابل پوهنتون سره د لس عرادې بس موټرو مرسته هم وکړه.
هغه زیاته کړه، چې جاپان تر دې وړاندې هم یو موټر د کابل له طب پوهنتون سره مرسته کړې وه.
په کابل کې د جاپان سفیر وویل: "زه خپله له کابل پوهنتون څخه فارغ شوی یم او هیله لرم، چې له دغه پوهنتون سره ډېرې مرستې وشي."
نوموړي زیاته کړه، چې دی د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له دري څانګې څخه فارغ شوی دی.
هغه وایي، چې جاپان اوسمهال د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د بیارغونې پروژو په برخه کې مرستې کوي.
د سفیر د معلوماتو له مخې، په تېرو ۱۱ کلونو کې جاپان له افغانستان سره څلور میلیارده امریکایي ډالره مرسته کړې ده.

دافغان ملت، عطامحمد نور او ...

دشنونکو له انده کېدای شي دواړه اړخونه یوې پریکړې ته نږدې شوې وي.
افغان ملت ګوند په ۱۳۴۴ ز کې په افغانستان کې رامنځته شوې دی دخپل سیاسي تاریخ په اوږدو کې له هر ډول لوړو ژوو څخه تېر شوې دی، دنورو ګوندونو برعکس مشران یې په هېواد او بهر کې ترور شوې دي دا ګوند اوس په دریو ډلو تقسیم شوې دی.
لومړۍ ډله: د ډاکتر انوار الحق احدي ده، چې اوس یې مشرې ستانه ګل شیرزاد کوي.
دویمه ډله: د محمد امین واکمن ده، چې له لومړنی هغې سره سخته مخالفه ده، درېیمه هغه یې داروانباد شمس الهدا شمس ده، چې اوس یې مشري دنوموړي زوی اجمل شمس کوي.
دشنونکو له انده تېره لسیزه دافغان ملت دودې او پراختیا لپاره دافغانستان او ګوند په تاریخ کې تر ټولو زرینه دوره وه خو دګوند مشرتابه ونه توانیده، چې وړشرایط دخان په ګټه وکاروي یوې سرچینې روهي ویبپاڼې ته څه موده وړاندې ویلي: دافغان ملت په ټوټه کولو کې ولسمشر کرزی هم لاس لري په دولت کې جیلاني پوپل ته لوړه څوکۍ او امتیازات ورکول ددې لامل شول، چې پوپل دګوند دګټو پر ځای خپلو او دحکومت ګټو ته ژمن شي.
دیادونې ده، چې:
محقق په یوې خصوصي ناسته کې دافغان ملت ګوند ځینو استازو ته ویلي دي، چې زه نور له پنجشیر ګروپ او کندهاري سره وړاندې نه شم تللې.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

هندوستان دې په افغانستان کې د خپلو ګټو د دفاع لپاره جدي فکر وکړي

ایکانومیک ټایمز ورځپاڼې په افغانستان کې د هندوستان د ګټو او رول په اړه یوه مقاله خپره کړې ده او په پیل کې یې وایي، په جلال اباد ښار کې د تیره اونۍ چاودنه د هندوستان پالیسي جوړونکو ته یو خبرداری دی چې؛ په نړیوالو اړیکو کې مفتي ډوډۍ نه شته.
ورځپاڼه له دې سره یو ځای په لیبیا، عراق او پاکستان کې له زندانونو څخه د سلګونو جهادي وسلوالو د تېښتې او له پاکستان سره د امریکا د پوځي مرستې پر بیا پیلیدو د غور خبرونو ته په اشارې وایي، هندوستان ته پکار دي چې؛ په افغانستان کې د خپلو ګټو د دفاع لپاره جدي فکر وکړي.
د ایکانومیک ټایمز ورځپاڼه زیاتوي، دا مهال د هندوستان په مخکې پراته انتخابونه ډېر ښه نه دي.
ورځپاڼه نوې ډیلي ته د سپارښتنو په دود وایي، لومړنی او ډېر ستونزمن ګام چې هر هغه چاته چې افغانستان ته ځي مهم دی، هغه پردې پوهیدل چې دوي به په دغه هېواد کې لږ تر لږه د شلو کلونو لپاره پاتې کېږي.
د ورځپاڼې په وینا په دویم ګام کې د دې درک مهم دی چې هرڅوک متحدینو ته اړتیا لري. د ورځپاڼې په باور هندوستان یو مهال د طالبانو پر ضد ایران خپل متحد باله او اوس روسیه او د امریکا متحده ایالت ځینې دې ته ورته اهداف لري.
ورځپاڼه وایي، دریم ګام چې په ماضي کې د هندوستان لپاره ناممکنه ثابت شوی دا دی چې په دې اړه روښانه لید لورې وټاکي چې له دې هېوادونو څخه له کوم یو سره موقت ایتلاف جوړولی شي.

اعلام آمادگی هند برای کمک نظامی با افغانستان

کابل، رسانه ها:
وزیر دفاع هند از آمادگی این کشور برای کمک نظامی با افغانستان در چارچوب قرارداد امنیتی کابل- دهلی‌نو خبر داد.
به گزارش گران افغانستان، وزیر دفاع هند با حضور در پارلمان این کشور اعلام کرد که دهلی‌نو در حال بررسی کمک نظامی به افغانستان است.
این مقام نظامی هند روز گذشته اظهار داشت که کابل و دهلی‌نو موافقتنامه ستراتژیک امضا کرده‌اند که در برگیرنده همکاری‌های نظامی دو جانبه نیز است.
بر اساس موافقتنامه ستراتیژیک کابل- دهلی‌نو، هند متعهد است که در بخش تجهیز، آموزش و افزایش توانایی های نیروهای امنیتی افغان، با کابل همکاری کند.
این مقام نظامی هند افزود که کمک نظامی دهلی‌نو به کابل، با درنظرداشت درخواست دولت افغانستان صورت می گیرد.
حامد کرزی در سفر رسمی به هند از دهلی‌نو خواست که اسلحه سنگین در اختیار دولت افغانستان قرار دهد.
کرزی در این سفر،
لیستی از درخواست‌های افغانستان، را به منظور کمک نظامی به مقامات دهلی‌نو ارائه کرد.
در آن زمان مقامات هند اعلام کردند که دهلی‌نو پیشنهاد دولت افغانستان را در خصوص واگذاری اسلحه سنگین بررسی خواهد کرد. اما چند روز بعد، "سلمان خورشید" وزیر خارجه هند اظهار داشت که دهلی‌نو اکنون قصد کمک نظامی به افغانستان را ندارد.
تحلیلگران معتقدند که تجدید نظر هند در خصوص کمک نظامی به افغانستان، بی‌ارتباط با تنش‌های اخیر مرزی بین هند و پاکستان نیست.
به گفته آنان، حمله اخیر به قونسلگری هند در شهر "جلال آباد" مرکز ولایت "ننگرهار" و متهم شدن اسلام‌آباد به دست داشتن در این حادثه نیز باعث شد که مقامات هندی برای کمک نظامی به افغانستان اعلام آمادگی کنند.
افغانستان و هند در ماه ثور سال ۱۳۹۰ موافقتنامه ستراتیژیک امضا کردند که هدف اصلی آن گسترش روابط سیاسی بین کابل و دهلی‌نو عنوان شد.
دهلی‌نو مهمترین کمک کننده به افغانستان است که تاکنون بیش از ۲ میلیارد دالر به این کشور کمک کرده است.